خپل کورونه مو مقبرې مه ګرځوئ او زما قبر د عبادت ځای مه جوړوئ، او پر ما درود ووایئ، یقینا تاسو چې هر چېرې یاست ستاسو درود ماته رسیږي

له ابو هریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: «خپل کورونه مو مقبرې مه ګرځوئ او زما قبر د عبادت ځای مه جوړوئ، او پر ما درود ووایئ، یقینا تاسو چې هر چېرې یاست ستاسو درود ماته رسیږي».

[حسن] [ابو داود روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمایلي ده چې کورونه دې له لمونځونو څخه فارغ شي، که داسې وشي نو حال به یې د هغې مقبرې په څېر وي چې لمونځ پکې نه کیږي. او په تکراري ډول یې د قبرونو له زیارت او تر څنګه یې له راټولېدو څخه منع فرمایلي ده، ځکه چې دا د شرک لپاره وسیله ګرځي. او د ځمکې په هر ځای کې یې پر هغه د سلام او درود ویلو امر کړی دی؛ ځکه چې له نږدې او لرې ځای څخه یو برابر ورته رسیږي، نو لدې امله یې بار بار قبر ته د ورتلو اړتیا نه لیدل کیږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3350